عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۹ ډسمبر ۲۰۱۴
اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
نهه شپیتمه ناسته
د اجنډا ۳۷ ماده
**د افغانستان وضعیت**

د امنیت شورا
نهه شپیتم کال

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### اول. پیژندنه

۱. دغه موجوده راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۱۴۵ (۲۰۱۴) پریکړه لیک په تعقیب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي ، چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندي کیږي. زما د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر د ۹ د ۳ نیټې (A/69/540-S/2014/656) د راپور د خپریدو راهیسې، دغه راپور د پام وړ بشري، پراختیایي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعالیتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور همداراز د افغانستان په تړاو د کلیدي سیاسي او امنیتي پرمختګونو او د سیمه ییزو او نړیوالو پیښو لنډیز برابروي.

### دوهم. اړوند پرمختګونه

۲. د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۹، د افغانستان د ولسمشر اشرف غني د لوړې د مراسم او د سپټمبر د ۲۱ نیټې تړون چې موخه یې د اجرائیه رییس عبدالله عبدالله سره د ملي یووالي د حکومت جوړول و، ټاکنیزې لانجې ته د پای ټکی کیښود او د ټاکل شویو مشرانو تر منځ یې په افغانستان کې د واک لومړی سوله ییز لیږد جوت کړ. تړون د ولسمشرۍ د دواړو نوماندانو له خوا لاسلیک شو، د ولسمشر غني د لوړې د مراسمو او د اجرایی رییس په توګه د ښاغلي عبدالله د ټاکل کیدو څخه په افغانستان دننه کې او بهر کې د نړیوالې ټولنې لخوا هر کلی وشو، دا هرکلی د اوږدې ټاکنیزې پروسې د مخ پر زیاتیدونکو لوړو سیاسي، امنیتي او اقتصادي اندیښنو په دننه کې ترسره شو.

۳. ولسمشر غني یوه قوي اجنډا اعلان کړه ، چې حکومتدارۍ ، د قانون حاکمیت او له اداري فساد سره مبارزه په بر کې نیسي، چې د یوه غوره لومړیتوب په توګه د پخلاینې او د سیمه ییزې ښکیلتیا لپاره پلانونه لري. د سپټمبر په ۳۰، افغانستان د متحده ایالتونو سره د امنیت یو دوه اړخیز تړون او د شمالي اتلانتیک له سازمان (ناټو) سره د ځواکونو د وضعیت په اړه یو تړون لاسلیک کړ ، چې په دې توګه له ۲۰۱۴ وروسته د نړیوالو پوځي مرستې لپاره قانوني چوکاټ چمتو کوي. سیمه ییزې خبرې اترې چې د آسیا زړه - د استانبول د پروسې د څلورم کنفرانس په اړه تمرکز کوي د اکتوبر په ۳۱ په بیجینګ کې ترسره

شوې ، چیرې چې ولسمشر غني د نوي حکومت د اصلاحاتو اجنډا تشریح او جوته کړه او د افغانانو په مشرۍ او مالکیت یې د سولې د یوې موثرې پروسې لپاره لومړیتوب جوت کړ. برخه اخیستونکو هیوادونو د افغانستان له نوي حکومت سره کار کولو ته چمتووالی ښودلی او په ټوله سیمه کې همکارۍ غښتلې کوي. د ډسمبر په ۴، د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس د نوي حکومت لپاره د سیاسي او مالي ملاتړ د نوي کولو لپاره د حکومت د اصلاحي اجنډا د اصلي عناصرو په شاوخوا کې د یوې هوکړې لپاره زمینه برابره کړه.

### الف. سیاسي پرمختګونه

۴. د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۱، ولسمشریزو نوماندانو ښاغلیو غني او عبدالله ، د پخواني ولسمشر حامد کرزي په شتون کې د ملي یووالي د حکومت د جوړښت په اړه د کمپاین د دوو ډلو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک کړ. زما د هغه وخت ځانګړي استازي یان کوبیش او په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر جیمز کننګهم د شاهدانو په توګه تړون لاسلیک کړ. د هماغه ورځې په وروستیو کې ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې ښاغلی غني د افغانستان ولسمشر دی ، او همدارنګه پرېکړه وشوه چې ښاغلی عبدالله د اجرائیه رییس په توګه ټاکل شوی ، په داسې حال کې چې د رایو د پایلو خپرول تر راتلونکې نیټې پورې ځنډول شوي.

۵. دغه هوکړه لیک د ولسمشرۍ د دواړو نوماندانو او د هغوی د کمپاین د ټیمونو ترمنځ ، او همدارنګه یې د نهایي متن په اړه د توافق د تسهیل په موخه د ولسمشر کرزي، د متحده ایالتونو او ملګرو ملتونو له خوا د منځګړیتوب د هڅو په اړه ژورې خبرې اترې منعکسې کړې. د سپټمبر په ۱۰، د ښاغیلو، غني او عبدالله سره په جلا خبرو اترو کې، ما د دواړو څخه وغوښتل تر څو د جولای د ۱۲ نیټې پر خپلو عمومي ژمنو عمل وکړي او د ملي یووالي د حکومت لپاره سیاسي هوکړه لیک لاسلیک کړي. د سپټمبر پر ۱۱، د سیاسي چارو لپاره د عمومي منشي مرستیال ، جیفري فیلټمن ، په کابل کې د ښاغیلو عبدالله او غني سره ولیدل او دا پیغام یې تکرار کړ او تایید کړ چې ملګري ملتونه به د افغانستان یو فعاله او ملاتړې شریک پاتې شي.

۶. د تړون د احکامو سره سم ، تړون د ملي یووالي د حکومت اشکال او دندې ټاکي او د سیاسي ټیکاو او اصلاحاتو اهمیت په ګوته کوي. په مرکزي عناصرو کې لاندې موارد شامل دي: د دوو کلونو په دننه کې د لویې جرګې را غوښتل ترڅو د اجرائیه لومړي وزیر د پوست د رامنځ ته کولو لپاره د اساسي قانون تعدیل په پام کې ونیسي. په لنډ مهال کې ، او د تړون سره په سمون کې ، د اجرائیه رییس پوست به د ولسمشر په فرمان سره رامنځ ته شي. دا هوکړه لیک همدارنګه د ملي یووالي په حکومت کې د کلیدي ګمارنو او د جامع انتخاباتي اصلاحاتو لپاره د اړینو اقدامونو په حواله د ورتیا، مساواتو او مساوي ویش په اړه د اصولو یوه مجموعه وړاندې کوي.

۷. د تفتیش د بې سابقې اندازې او وسعت په پام کې نیولو سره، پدې تفتیش کې د کاندیدانو د استازو، ناظرینو، رسنیو او ملګرو ملتونو په شتون کې د داخلي انتخاباتي چارواکو لخوا د ټولټال ۲۲۰۰۰ څخه د زیاتو رایې صندوقونو انفرادي پرانستل او ازموینه شامله وه. پداسې حال کې چې د تفتیش د پروسې په جریان کې هیڅ ډول رسمي مجموعي ارقام نه دي خپاره شوي، د شمیرنو او ابطال په اړه خپلواکې شمیرنې د کمپاینونو د دواړو ډلو لخوا ترسره شوي، په دې معنی چې د کمیسیون لخوا اعلان شوې لومړنۍ پایلې چې ښاغلي غني مخکښه ښيي په پراخه پیمانه د درک وړ دی او تمه نه کیږي چې بدلون به ومومي.

۸. د سپټمبر په ۲۶، کمیسیون منتخب ولسمشر غني ته د ټاکنو یو سند وړاندې کړ ، دا سند ښیي چې هغه د ټولټال ۱۲. ۷ میلیون با اعتباره رایو څخه د ولسمشرۍ ټاکنو په دویم پړاو کې ۲۷. ۵۵ سلنه رایې تر لاسه کړې دي. د سند په منلو سره ، هغه د ملت پر یووالي ټینګار وکړ او له یوه منتخب ولسمشر کرزي څخه یې بل منتخب ولسمشر ته د واک د سوله ییز لیږد په اړه ولسمشر ، هغه حامد کرزي ته مبارکي وویله. د ولسمشرۍ د دواړو کاندیدانو د پلویانو ترمینځ د دوامداره تشنج سربیره ، د بري لیک د سپارلو په تعقیب په رسنیو کې د مدني ناکراري ویره بې اساسه ثابت شوه.

۹. دوه ورځې وروسته ، ولسمشر کرزي د دولت د مشر په توګه ملت ته خپله وروستۍ وینا وکړه ، د خپلې اداري لاسته راوړنې یې په ګوته کړې او هیله یې څرګنده کړه چې ډیر ژر به افغانستان ته سوله راشي. هغه ولسمشر ښاغلي غني او ښاغلي عبدالله ته د دوی د موافقې له امله مبارکي وویله او په ټولو افغانانو یې غږ وکړ چې د ملي یووالي د حکومت ملاتړ وکړي.

۱۰. د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۲۹، د هغه د لوړې د مراسمو په پرانیستلو سره، ولسمشر غني عبدالرشید دوستم ته د لومړي مرستیال؛ محمد سرور دانش ته د ولسمشر د دوهم مرستیال ، ؛ اجرائیه رییس ، عبدالله عبدالله ته د اجرائیه رییس؛ محمد خان ته د اجرائیه ریاست د لومړي مرستیال ، او محمد محقق ته د اجرائیه ریاست د دوهم مرستیال په توګه لوړه ورکړل شوه. د هغه په پرانیستونکې وینا کې، ولسمشر غني یوه جامع اجنډا چې د حکومت او حکومتولۍ د نهادي اصلاحاتو، د اقتصاد، بشري سرمایې او امنیت خپلواکو مسلو ته ځواب وایي ترسیم کړه او همدارازيې پر طالبانو او د اسلامي ګوند په حکمتیار غږ وکړ چې په سیاسي خبرو اترو او د هیواد د ټیکاو او سوکالي لپاره د بهرنۍ پالیسي په نوښتونو کې برخه واخلي. په خپله وینا کې، اجرائیه رییس عبدالله د ملي یووالي د حکومت لپاره خپله ژمنه څرګنده کړه تر څو د یوه ټیم په توګه له ولسمشر سره په ګډه د هیواد د پرمختګ لپاره کار وکړي.

۱۱. د حکومت له افتتاح ژرر وروسته د نوي حکومت د جوړولو لپاره لومړني ګامونه تر سره شول. د سپتمبر د ۲۹ او د اکتوبر د ۱ نیټې تر منځ، ولسمشر غني د اصلاحاتو او حکومتدارۍ په چارو کې د ولسمشر د ځانګړی استازی په حیث د احمد ضیا مسعود، د ملي امنیت د سلاکار په حیث د حنیف اتمر او د ملي اقتصاد د مشاور په حیث د حضرت زاخېلوال په ګډون، یو شمیر لوړ پوړي سلاکاران په دندو وګمارل. هغه همدارنګه د خپل کمپاین د ژمنو د پلي کولو لپاره ګامونه اخیستي. د سپتمبر پر ۳۰، نوي حکومت د متحده ایالتونو سره دوه اړخیز امنیتي تړون او له ناټو سره د ځواکونو د وضعیت په اړه یو موافقه لیک لاسلیک کړ ، دې په ګډه د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموریت رامنځ ته کول تسهیل کړل کوم چې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره روزنه، مشوره او مرسته چمتو کوي. دواړه تړونونه د ولسي جرګې او مشرانو جرګې لخوا په ترتیب سره د نومبر په ۲۳ او ۲۷ تصویب شول او د ۲۰۱۴ د نومبر په ۳۰ نافذ شول.

۱۲. ولسمشر غني خپلې اداري ته د مسیر ورکولو په موخه لومړني کامونه ترسره کړل چې هغه د قانون د حاکمیت پیاوړي کول او له فساد سره مبارزه ده. د اکتوبر په ۱، ولسمشر د حکومتي ادارو د شمیر او لګښت د کمولو لپاره د ولسمشر د دفتر د د رییس دفتر د چارو د اداري له دفتر سره مدغم کړې. د فساد پر وړاندې د لا موثره مبارزې په خاطر، هغه د لوی څارنوال د دفتر ، د تفتیش د عالي ادارې ، د نظارت د عالي اداري او د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې تر منځ د همغږۍ د ښه والي په اړه بحثونه پیل کړل. په یو شمیر ولایتونو کې، د بیلګې په توګه، په کندز ، هرات، غور، ګردیز، کندهار، ننګرهار او خوست کې د حکومتي او امنیتي چارواکو، د ټولنې د مشرانو، مشرانو او مدني ټولنې د استازو سره د خبرو اترو په شمول ، دا د اصلاحاتو د اجنډا په اړه د پراخ لاسرسي سره مله وو. د اکتوبر په ۲ ، د ولسمشر فرمان صادر شو چې د ۲۰۱۰ کال د کابل بانک د درغلي د قضیې په اړه یې بیا تحقیقات پیل کړل.

۱۳. اکتوبر په ۱۳، اجرائیه رییس عبدالله د وزیرانو د شورا د لومړۍ ناستې مشري وکړه. د سپتمبر د ۲۱ نیټې د موافقې سره سم ، د ولسمشر او اجرائیه رییس د سالکارانو تر منځ د اکتوبر په لومړیو کې یو میکانیزم رامنځ ته شو تر څو د وزیرانو د نوموني لپاره شرایط او معیارونه وټاکي. ولسمشر او اجرائیه رییس د نوي کابینې د جوړولو لپاره ګډ کار ته دوام ورکوي، او د پخواني حکومت وزیران کولای شي خپلو دندو ته دوام ورکړي. د نومبر په ۹ او ۱۰ د ملي شورا دواړو مجلسونو د نوي کابینې د ژر تر ژره معرفي کولو غوښتنه وکړه. په پای کې ، د اجرائیه رییس دفتر د ولسمشر او د هغه ترمنځ د نوې کابینې د جوړولو په اړه او همداراز انتخاباتي اصلاحاتو ته د رسیدګې په موخه د چمتووالي په اړه د خبرو اترو د مشترک ماهیت د تاکیید په اړه یوه اعلامیه خپره کړه.

۱۴. د اکتوبر په ۲۵، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د اپریل په پنځمه د ولایتي شورا د ټاکنو پایلې اعلان کړې. د ولایتي شورا د ټولټال ۴۵۸ څوکیو له جملې څخه ۳۶۱ څوکۍ نارینه وو او ۷۹ څوکۍ (۲۱ سلنه) ښځینه وو وګټلې. اوه څلوېښت نوماندانو، چا چې د لومړنیو پایلو سره سم ټاکنې ګټلې وې ، د هغوي برياووې د تاکنیزو نهادونو له خوا شکایتونو ته د رسیدګې په پایله کې مستردې شوې. د هغو نوماندانو له جملې څخه یو شمیر هغو یې د نهایي پایلو پر وړاندې اعتراض وکړ او د شکایتونو د ناسم مدیریت او د ټاکنو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون لخوا په پایلو کې د لاس وهنې په اړه ادعاووې وکړې، په ځانګړې توګه په هرات کې ، چیرې چې لاریونونه ډارونکي وو. د سوداګرۍ د لومړي حکم په توګه ، نوې پرانیستل شوې ولایتي شوراګانو د ملي شورا په مشرانو جرګې کې د خپلو څوکیو د ډکولو لپاره داخلي ټاکنې ترسره کړې. دوی په ملي شورا کې خالي څوکیو ته د ځای ورکولو لپاره د ولایتي شورا د استازي لیږلو پروسه بنده کړه ترڅو د ولسوالۍ د شورا د استازو لخوا ډکې شي ، د کوم لپاره چې باید

په افغانستان کې ټاکنې تر سره شي. د کار د لومړنۍ کړنې په توګه، نویو پرانیستل شویو ولایتي شوراګانو خپلې داخلي ټاکنې ترسره کړې تر څو د ملي شورا په مشرانو جرګه کې د خپلو څوکیو سهمیه ډکه کړي. دوی په ملي شورا کې د خالي څوکیو د ډکولو لپاره د ولایتي شورا د استازو د لیږلو څخه ډډه وکړه ځکه چې لا هم په افغانستان کې د ولسوالیو د شورا ګانو لپاره ټاکنې نه دې ترسره شوې.

۱۵. د ولسمشرۍ د مقام له تر لاسه کولو وروسته ، ولسمشر غني د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د پروسې د په لار اچولو په برخه کې په کلکه خپله ژمنه څرګنده کړې ده. د اکتوبر په ۱۷ ، د ملي علماو د شورا د غړو سره په ناسته کې ، هغه د دیني مشرانو څخه وغوښتل ترڅو د هغه د ادارې سره په همکارۍ ، هیواد ته د سولې په راوستو کې فعال رول ولوبوي. د اکتوبر په ۳۱، د آسیا زړه – د استانبول د پروسې د وزیرانو کنفرانس ته په وینا کې ، ولسمشر غني ټینګار وکړ چې سوله د نوي حکومت تر ټولو مهم لومړیتوب دی. د دې کړنې په ترسره کولو سره ، هغه "سیاسي اپوزیسیون ، په ځانګړې توګه طالبانو ته، په بین الافغانی خبرو کې په ګډون ټینګار وکړ" او له نړیوالو ملګرو یې غوښتنه وکړه چې د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت د سولې د پروسې څخه ملاتړ وکړي.

۱۶. په خبرو اترو کې د ښکېلتیا لپاره باید طالبان په رسمي ډول خپل چمتووالی وښیي. د سپتمبر په ۲۲ په یوه بیان کې ، طالبانو د ملي یووالي د حکومت رامنځ ته کیدل رد کړل او د "بهرني اشغال تر پای" پورې یې د جګړې د دوام غوښتنه وکړه. د متحده ایالاتو او ناتو سره د حکومت د امنیتي تړونونو د لاسلیک کولو وروسته ، طالبانو د سپتمبر په ۳۰ نیټه یو بیان خپور کړ چې په هغه کې د تړونونو غندنه شوې او د ولسمشر لخوا د سولې او پخلاینې پرانیستونکی پیغام یې "له درغلې ډک" وباله. د اکتوبر په ۷ ، طالبانو په افغانستان کې د متحده ایالتونو د پوځي عملیاتو د پیل د ۱۳ لسیسزې په مناسبت یو بیان خپور کړ، په نړیوالو ځواکونو یې د بریدونو د تکرار غوښتنه وکړه او دواړه امنیتي تړونونو یې وغندل. بل بیان د نومبر په ۴ د حزب اسلامي ګلبدین لخوا خپور شو چې پکې یې دوه اړخیز امنیتي تړون غندلی او له ملي شورا یې غوښتي چې تصویب یې رد کړي.

**ب. امنیت**

۱۷. د دوبې د دورې له پای ته رسیدو راهیسې ، حکومت د کلیدي ولسوالیو د امینت ساتلو په برخه کې کومې چې د یاغیانو تر فشار لاندې دي، د دوامداره ننګونو سره مخ و. له ټاکنو څخه وروسته سیاسي کړکیچ او له متحده ایالتونو او ناټو سره د امنیتي تړونونو د لاسلیکولو ځنډ د بې باورۍ یو چاپیریال رامنځ ته کړ ، دې په ټول هیواد کې دولت ضد عناصرو ته دا فرصت ورکړ تر څو خلک په دولت او امنیتي ځواکونو بې باوره کړي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د ولسوالیو په اداري مرکزونو، امنیتي پوستېو او لویو لاروګې بریدونه ترسره شوي. د یاغیانو د ځواک ښودلو په اړه د هغوي د ښکاره نیت او د رسنیو د عمومي پاملرنې ور ها خوا ، و یې نه کولای شوای په دې بریالي شي چې په دایمي توګه هدفونه ونیسي.

۱۸. د هیواد په ډېری برخو کې بلواګرو د دولت پر وړاندې بریدونه پیل کړي ، چې تر ټولو مهم یې په سویل کې د هلمند او کندهار په ولایتونو، په سویل ختیځ کې د غزنی ، پکتیا او پکتیکا په ولایتونه؛ په ختیځ کې د ننګرهار په ولایت؛ په شمال ختیځ کې د کندز په ولایت؛ په شمال کې د فاریاب په ولایت؛ او په لودیځ کې د هرات ، فراه او غور په ولایتونه کې دي. په ټوله کې، افغان امنیتي ځواکونه توانیدلي چې د څه نا څه نسبي تاثیراتو په درلودلو سره د یاغیتوب مخه ونیسي ، که څه هم د راپورونو له مخې یې د پام وړ تلفات درلودل. د اکتوبر په ۱۶ ، افغان امنیتي ځواکونو د حقاني شبکې د دوه لوړ پوړو قوماندانانو د نیولو اعلان وکړ او څرګنده یې کړه چې دا به د یادې شبکې د قوماندې په پورته کچو او عملیاتي ظرفیت باندې زیان رسونکی تاثیر ولري. په دا بله ورځ طالبانو د دې موضوع په هکله د رد یوه اعلامیه خپره کړه او ادعا یې وکړه چې دا دوه تنه د خلیج د یوه هیواد څخه نیول شوي او د فرا مرزي تښتونې موضوعګانې دي او سمدستي یې د دوی د خوشې کیدو غوښتنه وکړه. تر دې دمه په افغانستان کې د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) د شتون په اړه د یو شمیر اوازو سره سره ، د یاغیانو کومې لوېې ډلې له داعش سره بیعت نه دی اعلان کړی.

۱۹. ملګرو ملتونو د امنیتی پیښو نظارت ته دوام ورکړی کوم چې په ملکی فعالانو اغیزه لری. د اګست له ۱۶ څخه د نومبر تر ۱۵ پورې ، ۵۱۹۹ امنیتي پیښې ثبت شوې ، چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۵.۲۴ سلنه کمښت ښيي ، کله چې ۵۴۸۱ پیښې ثبت شوې وې. د ۲۱۰۴ کال له پیل څخه د نومبر تر ۱۴ نیټې پورې، په ټول هیواد کې د ثبت شویو ۱۹۴۶۹

امنيتي پيښو ټوليز شمير د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله د ۱۷۶۴۵ پيښو په درلودلو سره، ۱۰.۳ زياتوالی ښيي. تر ټولو ناکراره سيمې د هيواد سويل ، سويل ختيځې او ختيځې برخې دي، چې د راپور شوي پيښو ۶۹ سلنه برخه جوړوي. د هيواد ختيځه برخه، د نورو سيمو د پيښو په نسبت د پام وړ زياتوالی ښيي ، په ننګرهار ولايت کې ۷۸۶ پيښې ثبت شوي او په کندهار کې ۵۹۲ پيښې ثبت شوي دي. پداسې حال کې چې ملي امنيتي ځواکونو د سيالي وړ سيمو د پاکولو او بيرته ترلاسه کولو لپاره خپله وړتيا ښودلې ، د حکومتدارۍ او ټولنيزو خدمتونو په وړاندې کولو کې اوږدمهاله کنټرول او پرمختګ اړين دی.

۲۰. د ملي امنيتي د نهادونو د ظرفيت د ښه کولو لپاره هڅې، چې د تيرو ۱۳ کلونو راهيسې يې د روزنې لړۍ دوام درلود، په بشپړه توګه محکم او پايداره دی ، لکه څنګه چې د امنيتي چمتووالي په واسطه ښودل شوی کوم چې د سپټمبر په ۳۰ نيټه لاسليک شو. دا د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۴ او ۵ په انګلستان او شمالي آيرلينډ کې د ناټو د سر مشريزې او د هيوادونو د مشرانو د غونډې څخه وړاندې و ، چيرې چې د ناټو متحدينو او ملګرو يې د ۲۰۱۷ کال تر پای پورې د افغان ملي امنيتي ځواکونو سره د خپل دوامداره ملاتړ ژمنه وکړه. دا مرستې په کال کې اټکل شاوخوا ۵.۱ مليارد ډالره دي او د ناټو - افغانستان د د دوامداره مشارکت لاندې خبرو اترو ته دوام ورکوي. د افغانستان په اړه په اعلاميه کې غړو هيوادونو د ناټو د غوښ ملاتړ د ماموريت له ارادې څخه چې موخه يې له ۲۰۱۴ کال ور ها خوا د افغان ملي امنيتي ځواکونو روزنه، مشوره او مرسته کول دي يادونه کوي، افغان ځواکونو ته په مالي مرستو کې د روڼتيا، حساب ورکونې او لګښت د اغيزمنتوب پر اهميت يې ټينګار وکړ؛ او د هغه هدف يادونه يې وکړه کوم چې افغانستان يې بايد تر ۲۰۲۴ پورې د خپلو امنيتي ځواکونو بشپړ مالي مسؤليت په غاړه واخلي. دا ملاتړ د پلان کولو ، استخباراتو ، لوژستيک ، هوايي ملاتړ او طبي ليږدونې د وظايفو برخو کې تنظيم شوی.

۲۱. وسله والې نښتې د راپور ورکولو په موده کې د ثبت شويو امنيتي پيښو ۹. ۴۸ سلنه جوړوي ، چې دا په ۲۱۰۳ کال د ورته مودې په پرتله ۲.۲ سلنه کموالی ښيي. د راپور شويو پيښو له جملې څخه په لاس جوړ چاوديدونکي توکي د ۱. ۲۷ سلنې لامل و. د دولت ضد عناصرو په خلکو باندې د کنټرول او نفوذ د کارولو په هدف، د هدفي وژنو او اختطافونه کارولو ته دوام ورکړی. د ۲۰۱۴ د اګست د ۱۶ او د نومبر د ۱۵ ترمنځ ، د وژنو ۲۳۵ او د اختطافونو ۹۲ پيښې ثبت شوې ، چې دا په ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۹ سلنه زياتوالی ښيي ، په دې موده کې ۲۱۱ پيښې او ۸۹ تښتونې ثبت شوي. همدارنګه پدې موده کې، په ۲۰۱۳ کې د ورته مودې پر مهال د هيواد په کچه ۴۶ ځانمرګي بريدونه راپور شوي چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۳۶ هغه وو ، چې ۱۷ سلنه په کابل ښار کې ثبت شوې.

۲۲. د راپور ورکولو د دورې په جريان کې ، ۲۷ امنيتي پيښې چې په مستقيم يا په غير مستقيم ډول د ملګرو ملتونو پر وړاندې رهبري شوې، ثبت شوې. ډيری پيښې د ملګرو ملتونو د داخلي کارمندانو پر وړاندې رهبري شوې، چې په هغو کې جرمي عملونه او ډارول شامل دي. د سپټمبر په ۲۰ ، د خوست په ولايت کې د ملګرو ملتونو د سړک ماموريت د ريموټ کنټرول له لارې د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو په واسطه په نښه شوی ، خو د تلفاتو يا زيان په اړه کوم راپور نه دی ورکړل شوی. د اکتوبر په ۱۳ ، د ملګرو ملتونو يوه الوتکه چې د ګرديز څخه کابل ته په لار وه د سپکو وسلو په ډزو وويشتل شوه. پداسې حال کې چې الوتکه په خوندي توګه په کابل کې په ځمکه کښيناسته، خو د الوتکې دوه پيلوټانو برسيرن ټپيان شول او د ملګرو ملتونو الوتنې وځنډول شوې. د اکتوبر په ۲۴ ، د راکټ د لګيدو يوې نږدې اغيزې د نړيوال بانک په ودانۍ کې د امنيت يو نړيوال چمتو کونکی ټپي کړ. د نومبر په ۲۱ ، په کابل کې د ګرين کلي په نوم نړيوال انګړ په يوه پيچلي بريد کې په نښه شو ، چې پړه يې طالبانو په غاړه اخيستې. يو نړيوال ساتونکی وژل شوی او دوه نور ټپيان شوي دي. يو افغان پوليس هم ټپي شوی دی. په بريد کې د ملګرو ملتونو کوم کارکونکي نه دي ټپيان شوی. د نومبر په ۲۵ او ۲۶ په کابل ولايت کې د ملګرو ملتونو د سړک دوه ماموريتونه تر بريد لاندې راغلل. پداسې حال کې چې د ملګرو ملتونو کوم پرسونل نه دي ټپيان شوي ، په دوهمه پيښه کې د افغان امنيتي ځواکونو دوه غړي ټپيان شوي. طالبانو د دواړو بريدونو مسوليت په غاړه اخيستی.

**ج. سيمه ييزه همکاري**

۲۳. د ملي ثبات د يقيني کولو په برخه کې د سيمه ييزو اړيکو د رول په رسميت پيژندلو ، د افغانستان مشرانو د خپلو ګاونډيو او سيمې سره همکارۍ ته لومړيتوب ورکړی دی. د ۲۰۱۴ د سپټمبر په ۱۰ ، ولسمشر کرزي د هند د بهرنيو چارو له

وزیرې سوشما سووراج سره د سیمه ییز امنیت په اړه خبرې وکړې. هغه د سپټمبر په ۱۱ او ۱۲ نیټه د شانګهای د همکاریو د سازمان په غونډه کې ګډون وکړ، د یاد سازمان په اعلامیه کې د یوه خپلواک ، سوله ییز ، بې پرې او سوکاله دولت په توګه د افغانستان د را څرګندیدو لپاره د ملاتړ او همدا راز د افغان جوړجاړي لپاره په نړیوالو هڅو کې د ملګرو ملتونو د مرکزي همغږي رول د پیاوړي کولو لپاره یادونه شامله وه.

۲۴. د دندې د پیل راهیسې ، ولسمشر غني د افغانستان د ثبات او هوساینې لپاره د یو مهم فاکتور په توګه په سیمه ییزې همکارۍ باندې ټینګار کړی. د دې کړنې په ترسره کولو سره، هغه سعودي عربستان ، چین ، پاکستان ، نیپال او انګلستان ته سفرونه وکړل او د اکتوبر په ۱۸ یې په کابل کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان او د وزیرانو یو پلاوي ته هرکلی ووایه. د لیدنې پر مهال ، دوی د افغانستان - ترکیې د ستراتیژیک شراکت او ملګرتیا تړون لاسلیک کړ، د ا تړون دواړه هیوادونه د امنیت، بیارغونې، پانګوونې او سوداګرۍ په برخو کې لا ډیري همکارۍ ته هڅوي.

۲۵. د اکتوبر په ۳۱ ، د آسیا د زړه – د استانبول د پروسې د وزیرانو د کچې څلورم کنفرانس په بیجینګ کې جوړ شو او د "آسیا زړه" د سیمې د دوامداره امنیت او سوکالۍ لپاره د ژورې همکارۍ په هکله د اعلامیې په تصویب سره پای ته ورسید. په کنفرانس کې ، ولسمشر غني د اصلاحاتو او پخلاینې لپاره د خپل ملت ژمنتیا تکرار کړه. ناسته د چین د لومړي وزیر لي او ولسمشر غني لخوا پرانستل شوه ، پدې ناسته کې د استانبول د پروسې د ۱۴ هیوادونو استازو ، د ۱۶ ملاتړو هیوادونو او ۱۲ نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو او همدا راز د ملګرو ملتونو استازو برخه اخیستې وه. د کنفرانس د پایلو سند د آسیا د زړه – د استانبول د پروسې سیاسي اړخونه پیاوړي کړل او د افغانانو په مالکیت او مشرۍ یې د سولې د پروسې لپاره د ټول شموله پخلاینې او ملاتړ لپاره په پخوانیو ژمنو ټینګار وکړ. په ورته ډول، د هغو عناصرو چې تمرکز یې په اقتصادي همکارۍ وو ، په ځانګړې توګه هغه چې د باور جوړونې د اقداماتو د پرمختګ لپاره وو، پیاوړي شوي. سربیره پردې ، برخه والو د پاکستان له خوا د هغه وړاندیز هرکلی وکړ چې موخه کې په ۲۰۱۵ کال کې د وزیرانو د راتلونکې غونډې کوربه توب و.

۲۶. د نومبر په ۵، د افغانستان، چین او تاجکستان تر منځ د سرحدي مرتبطې نکتې تړون لاسلیک شو. تړون د درې واړو هیوادونو ترمنځ پوله تعریفوي ، کوم چې د دوه اړخیز حاکمیت او د ځمکنۍ بشپړتیا د درناوی ژمنه کوي.

۲۷. د افغانستان او پاکستان په اړه، د هیوادونو تر منځ په سرحد کې تاوتریخوالي دوام درلود، خو د پولې له هاخوا د راکټونو توغول او د جنګیالیو نفوذي بریدونه د راپور ورکولو د تیرې مودې په پرتله نسبتا لږ وو. د سپټمبر په ۱۵، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت پاکستان ته د پولې پورې غاړې د بریدونو د ترسره کولو په نیت د تحریک طالبان پاکستان د یوې ډلې لخوا د اعلامیې په اړه خپله ژوره اندیښنه څرګنده کړه. د سپټمبر په ۱۷ ، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د شمالي وزیرستان په پوله د وسله والو لخوا د ادعا شوي برید په اړه افغانستان ته خپل اعتراض وړاندې کړ.

۲۸. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د لوړې کچې ښکیلتیا موجوده وه. پدې کې د نومبر په ۱۴ او ۱۵ اسلام آباد ته د ولسمشر غني سفر شامل و. د اکتوبر په ۱۱، افغانستان او پاکستان د مرکزي آسیا - سویلي آسیا د بریښنا د لیږد او سوداګرۍ د پروژې، یعني د (CASA-1000) د برخې په توګه د انرژي د ترانزیت د نرخ په اړه یو تړون لاسلیک کړ ، چې له مخې به یې د افغانستان له لارې پاکستان ته د قرغزستان او تاجکستان څخه د بریښنا مزي غزول کیږي. د دې په تعقیب د اکتوبر په ۱۹، سرتاج عزیز چې د ملي امنیت او بهرنیو چارو په اړه د پاکستان د لومړي وزیر سلاکار و، د کابل څخه لیدنه وکړه. د نومبر په ۶، د پاکستان د پوځ لوی درستیز ، جنرال راحیل شریف په کابل کې د ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبدالله سره د امنیت د همکارۍ د مسلو په اړه خبرې اترې وکړې. په اسلام اباد کې، ولسمشر غني د لومړي وزیر، نواز شریف؛ ولسمشر ممنون حسین، د مالیې له وزیر محمد اسحاق ډار؛ او د پوځ د لوی درستیز جنرال شریف سره وکتل.

## دریم. بشري حقونه

۲۹. د اګسټ د ۱۶ او د نومبر د ۱۵ نیټو تر منځ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) ټولټال ۲۶۰۶ ملکي تلفات (۸۲۲ مړینې او ۱۷۸۴ ټپي کیدنې) مستند کړې، دا په ۲۰۱۳ کال کې د ورته ربع په ترځ کې یوه اندازه زیاتوالی منعکسوي. په ټوله کې ۷۳ سلنه ملکي تلفات دولت ضد عناصرو، ۱۵ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۳ سلنه افغان امنیتي ځواکونو او دوه سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو) او ۷ سلنه د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د نا منسوب شویو ډزو تبادلې ته منسوب شوي. د ۵ سلنې ملکي تلفاتو منسوبیدنه چې تر ډیره د جګړې څخه د پاتې شونو چادویونکو توکو له امله را منځ ته شوي، نه شي کیدای جوته شی. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو د مخکښه لامل په حیث په ځای پاته شوی، چې ټولټال ۷۸۵ ملکي تلفات (۲۲۹ مړینې او ۵۵۶ ټپي کیدنې) جوړوي، ور پسې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي راځي چې د ټولټال ۷۱۶ ملکي تلفاتو (۱۹۲ مړینو او ۵۲۴ ټپي کیدنو) لامل شوي، چې دا په خپل ذات کې ۸ سلنه زیاتوالي ښيي. د نومبر په ۳، د ګردیز په ښار کې، د بازار په یوه رستورانت کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو یوه آله وچاودیده چې په نتیجه کې یې ۴ ملکي کسان ووژل شول او نور ۲۱ تنه ټپیان شول. د نومبر په ۲۳، د پکتیکا ولایت په یحیی خیلو ولسوالي کې یوه ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي د سپورټ په یوه میدان کې وچول، چې په نتیجه کې یې ۵۰ ملکي کسان چا چې د والیبال په لوبو کې برخه اخیستې وه ووژل او لږ تر لږه ۶۰ نور یې ټپیان کړل. په مړو او ټپیانو کې زیان ماشومان وو. په توله کې، د ماموریت له خوا د ۶۴ ثبت شویو ملکي مړینو او ۴۲۴ ټپي کیدنو (۴۸۸ ملکي تلفاتو) په درلودلو سره ، د یادې ربعې په ترځ کې د ډله ییزو او ځانمرګي بریدونو په نتیجه کې د ملکیانو تلفات ۱۰ سلنه زیاتو شوي. طالبانو یو شمیر بریدونه ترسره کړل او د هغو لپاره یې په عام ډول مسؤلیت په غاړه واخیست چې د هغو له جملې څخه یو هم د ملي امنیت د ریاست پر وړاندې برید و چې ملکي تلفات یې لرل او بل هم د سپټمبر پر ۴ د غزني په ښار کې د ملي امنیت د ریاست د ودانۍ پر وړاندې برید و، چې په نتیجه کې یې ۲۱ کسان ووژل او ۲۰۱۴ نور ملکیان ټپیان کړل.

۳۰. یوناما همداراز د هوايي بریدونو په پایله کې چې د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا ترسره شوي هم د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی مستند کړي، ټولټال ۸۸ ملکي تلفات (۵۳ مړینې او ۳۵ ټپي کیدنې) یې مستند کړي، چې دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۱۲۰ سلنه زیاتوالي ښيي. د ۸۹ ملکي تلفاتو (۲۱ مړینو او ۶۸ ټپي کیدنو) په درلودلو سره، چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته ربعې په ترځ کې ۲۲ سلنه زیاتوالی ښيي، یوناما د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ملکي نلفاتو په برخه کې زیاتوالی مستند کړی.

۳۱. د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د نظارت او راپور ورکولو په هکله د ملګرو ملتونو تر رهبرۍ لاندې د هیواد د کچې کاري ځواک د اګسټ د ۱۶ او د نومبر د ۱۵ نیټو تر منځ د ماشومانو ۱۴۸ مړینې او ۴۲۲ ټپي کیدنې مستندې کړې. د ماشومانو زیاتره تلفات د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنۍ نښتو په پایله کې را منځ ته شوي. د هیواد ختیځه برخه د ماشومانو لپاره خورا بې ثباته سمیه وه، چې دا د ماشومانو د ټولو راپور شویو تلفاتو ۲۵ سلنه جوړوي. طالبان او نورې وسله والې ډلې د ماشومانو د ډیری تلفاتو (۴۸ سلنه) مسؤل وو . د راپور ورکولو د تیرې مودې په پرتله، افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي تلفات د ۷۱ وو څخه ۹۵ ته لوړ شوي او علت یې هم په ځمکنیو نښتو کې د هغوي زیاته ښکیلتیا وه. کاري ځواک همدارنګه د ښوونځیو او تعلیمي کارکونکو پر وړاندې د ۱۹ پیښو، د روغتونونو او روغتیايي کارکونکو پر وړاندې د بریدونو د ۱۰ پیښو او د کم عمره ماشومانو د استخدام په اړه راپورونه تر لاسه کړي. د نومبر په ۱، د ملي شورا ولسي جرګې هغه قانون تقویه او تصویب کړ چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ماشومانو استخدام جرم ګڼي ، کوم چې مخکې د ولسمشر د فرمان په واسطه تایید شوی و.

۳۲. د ولسمشر غني د لوړې د مراسمو ژر وروسته، د میرمنو د مدني ټولنې استازو د ولسمشر او اجرائیه رییس عبدالله سره ناستې ترسره کړې ترڅو له دوی څخه وغواړي چې د کمپاین پر مهال د ښځو د حقونو په اړه خپلې ژمنې پر ځای کړي. د اکتوبر په ۸ ، ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه په لړ کې د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د نړیوالې پرانیستې کلنۍ غونډې مشري وکړه. په برخه اخیستونکو کې د مدني ټولنې استازي ، د پارلمان غړي او د ښځو د چارو او د بهرنیو چارو د وزارتونو استازي شامل وو. که څه هم چې په تیره لسیزه کې د ښځو د ځواکمنتیا په برخه کې عمومي پرمختګ شوی، برخه اخیستونکو د نوي حکومت سره د نږدې کار کولو په اړه اړتیا ټینګار وکړ ترڅو په سیاسي او د سولې په پروسو کې د میرمنو معنی لرونکی ګډون یقیني کړي.

۳۳. د اکتوبر په ۸ ، ولسمشر غني په کابل کې د څرخي پله له زندان څخه لیدنه وکړه ، چیرې چې هغه د بندیانو د قضیو او د توقیف د شرایطو په حواله د قانوني پروسې د مسلو په اړه د پاملرنې غوښتنه وکړه. د بندیانو په شکایتونو کې د ادعا ناسم پلې کول او د بندیانو د خوشې کیدو او د مجازاتو د کمولو لپاره د پروګرامونو د محدود وسعت، ډیري ګڼې ګوڼې ، د مجازاتو نه سازګاري شامله ده. د نومبر په ۳ ، ولسمشر غني د کابل د توقیف خونې څخه لیدنه وکړه تر څو د توقیفیانو حقونه او د توقیف وضعیت و ارزوي.

۳۴. د نومبر د ۴ او ۱۲ نیټو تر منځ، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي، د لاملونو او پایلو په اړه خاص راپور ورکونکې، رشیده مانجو، د افغانستان څخه لیدنه وکړه. نوموړې د لوړ رتبه دولتي چارواکو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د رییسې، د مدني ټولنې د استازو او په کابل کې د ډیپلوماتیکې ټولنې سره ولیدل او په هرات او جلال اباد کې یې ورته غونډې ترسره کړې. هغې د نومبر د میاشتې د ۱۲ نیټې په بیان کې، هغه تقنیني او سازماني پرمختګونه د ښځو د حقونو د ترویج او ساتنې په برخه کې د "سیاسي ارادې د انعکاس" په توګه یاد کړل او ټینګار یې وکړ چې دا ډول پرمختګونه باید بل مسیر ته منحرف نه شي او دا چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د یوې ژورې اندیښنې په حیث پاتې شوی. ځانګړې راپور ورکونکې د هر اړخیزو او همغږو معلوماتو د راټولولو نشتوالی او همداراز د قوانینو او سرچینو د مؤثره تفسیر او پلې کولو نه شتون هم په ګوته کړی چې موخه یې د یوې محافظتي چارې په توګه د سرپناه لپاره ملاتړ دي ، پدې کې د دې تاسیساتو د منفي درک د مخنیوي لپاره اړتیا هم شامله ده.

۳۵. د نومبر په ۱۶، د عامې روغتیا وزارت د ملګرو ملتونو په ملاتړ د روغتیایي پاملرنې د چمتو کونکو لپاره د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي سره د چلند په موخه خپل لومړی پروتوکول په رسمي ډول پیل کړ. د دې پروتوکول د پلي کولو لپاره فعالیتونه پلان شوي چې د جنډر پر بنسټ کیفیت لرونکې روغتیایي پاملرنه چمتو کوي، د طبي کارکونکو لپاره د روزنې پشمول، د بیلګې په توګه، د قضیې مدیریت ، د ژغورنې پاملرنه ، طبي - قانوني شواهد ، او د سوځیدنې ، ټپونو او د جنسي تیریو د قربانیانو لخوا د ټپي کیدو درملنه شامله ده.

۳۶. د نومبر په ۱۶، د پارلمان د یوې وتلې ښځینه غړې او د ښځو د حقونو د فعالې شکریه بارکزۍ پر کاروان یو بمي برید ترسره شو . که څه هم چې هغه برسیرنه ټپي شوه ، درې ملکي وګړي مړه او ۳۲ نور ټپیان شول. تر دې دمه کومې یاغي ډلې د برید مسولیت نه دی منلی.

۳۷. د اکتوبر په ۸، د افغانستان دولت د کابل ولایت په پغمان ولسوالۍ کې پنځه سري د څلورو میرمنو سره د جنسي تیري په تور اعدام کړل. د بشري حقونو د ډلو لخوا د ډیری غوښتنو سربیره اعدامونو ترسره شول. د سپټمبر په ۲۶، ملګرو ملتونو یوه اعلامیه خپره کړه چې د سترې محکمې د پریکړې په اړه یې خپله نا امیدي څرګنده کړه او حکومت یې وهڅاوه تر څو په اعدامونو ممنوعیت بیا نافذ کړي چې په دې سره د اعدام جزا په بشپړه توګه لغوه شي. د اکتوبر پر ۷، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر زید رعد الحسین ولسمشر او اجرائیه رییس عبدالله ته د خپلو ژورو اندیښنو په اړه معلومات ورکړل، او هغې قانوني پروسې چې د وسله والې غلا او ډله ییز جنسي د تیرې په تور د پنځو کسانو محکومیت ته لار هواره کړه د افغانستان او نړیوالو عادلانه محاکمو د معیارونو سره په مطابقت کې نه ده ، او همدارنګه یې د اعدام د ځنډیدو غوښتنه وکړه ترڅو قضایي بیاکتنې ته زمینه برابره شي.

**څلورم. د کابل د پروسې تطبیق او د پراختیایي مرستو همغږي**

۳۸. د راپور ورکولو مودې د لندن د کنفرانس څخه دمخه چې د ډسمبر په ۴ ترسره شو د "د ځان بسیاینې د تحقق – او د اصلاحاتو او نوي مشارکت د ژمنې" تر سرلیک لاندې د حکومت د سند د چمتو کولو په شمول، د حکومت د اصلاحاتو د اجنډا د وړاندې کولو د هڅو په اړه د نوي اداري او نړیوالې ټولنې تر منځ د پام وړ ښکېلتیا ښیې. یاد سند د هیواد په اقتصادي کړکیچ ، د بدلون په لسیزه کې د ځان بسیاینې د تحقق په شرایطو، د حکومتدارۍ د پیاوړي کولو په اړتیا ، د پالیسۍ د اصلاحاتو په تطبیق او د پرمختیایي مرستو د مدیریت په پیاوړي کولو تمرکز کوي.

۳۹. د نومبر په ۲۷، ملګرو ملتونو د حکومت سره په ګډه د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ د ځانګړي ناستې مشري وکړه ترڅو د لندن د کنفرانس لپاره وروستی چمتووالی ونیسي. په دې غونډه کې، د پرمختیایي نماینده ګیو او مالي ادارو، مدني ټولنې او خصوصي سکټور په شمول، د حکومت د اصلاحاتو د سند د ارزونې او د وړاندیزونو د تبادلې په موخه د نړیوالې ټولنې استازي راټول شوي وو . برخه اخیستونکو د حکومت د اصلاحي اجنډا هرکلی وکړ او په کابل کې یې د لوړ پوړو چارواکو د پلان شوې ناستې څخه د مخه د راتلونکې کال لپاره د توکیو د دوه اخیزه حسابورکونې د چوکاټ د تازه کولو د پلانونو په شمول، ناستې د پلې کیدو پر لومړیتوب ټینګار وکړ.

۴۰. په افغانستان کې اقتصادي او مالي وضعیت ننګونکی پاته شوی. په سپټمبر کې، د مالي وزارت راپور ورکړ چې د ۲۰۱۴ کال په لومړیو اوو میاشتو کې پانګونه ۷۹ سلنه او سوداګري ۹ سلنه را ټیټه شوې. د اکتوبر په ۲۷، نړیوال بانک خپله تجدید شوې اقتصادي ارزونه چې د ۲۰۱۵ کال لپاره ۵. ۱ سلنه اقتصادي اټکل شوې وده پیشبینی کوي وړاندې کړه، چې دا د ۲۰۱۳ کال د ۷. ۳ سلنې څخه څه کمه ده. اقتصادي وضعیت په پرله پسې توګه د دولت په بودیجې منفي اغیز درلود. د اکتوبر په وروستیو کې ، نړیوال بانک ډونرانو ته مشوره ورکړه چې د میاشتنۍ عوایدو د ټولولو کچه باید ۴۲ سلنو ته لوړه شي ترڅو کلنۍ هدف پوره کړي. په ورته میاشت کې ، د مالیې وزارت د تمویل کونکي د مرستې لپاره رسمي غوښتنه وکړه ترڅو د بودیجې تشه ډکه کړي ، چې د ټولټال ۵۳۷ میلیون ډالرو "عاجله او بیړنۍ اړتیا" بیانوي. دې ته په ځواب کې، متحده ایالتونو ټولټال ۷۵ میلیون امریکایي ډالره او انګلستان ۱۸.۹ میلیون امریکایي ډالره اضافي مرسته د افغانستان د بیارغونې د صندوق له لارې چمتو کړې چې د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي. نورو تمویل کونکي راپور ورکړی چې غوښتنې ته په ځواب کې د پلان شوي تمویل د لومړیتوب په انتخاب باندې غور کوي. د ۲۰۱۴ د نومبر په ۱۱ ، د ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) بودیجه ملي شورا ته د تصویب په موخه وسپارل شوه. په بودیجه کې د تیر کال په پرتله د غیر امنیتي اړوندو لګښتونو په برخه کې د ۱۱ سلنې کموالي په درلودلو سره، د ټولیز ۳ سلنه کموالي وړاندیز شامل دی.

۴۱. د سپټمبر په ۱۷، د اداري فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې خپل دوه کلن راپور خپور کړ، په کوم کې چې د ځمکو د غصب او د کابل بانک د درغلي د قضیې په اړه د تحقیق په اړه په خاص تمرکز سره، د فساد د مخنیوي په برخه کې د محدود پرمختګ یادونه شوې. راپور همدارنګه د کمیټې د اداري فساد سره د مبارزې چوکاټ او وسیله هم په لار اچولې ، ترڅو د خپلو تیرو وړاندیزونو تطبیق تعقیب کړي. د نومبر په ۲ او ۱۷ ، کمیټې په ترتیب سره د کابل بانک د درغلي د قضیې او د ځمکو د غصب په اړه راپورونه خپاره کړل.

۴۲. د اکتوبر په ۱۶، ولسمشر غني د ځمکو د ناقانونه غصب په اړه د اداري فساد پر وړاندې د هڅو په برخه کې خپله ژمنه بیا تکرار کړه. د افغانستان د ځمکو اداري د یوناما په تخنیکي مرسته یو پنځه کلن پلان جوړ کړ، چې د دولتي ځمکو مدیریت پیاوړي کوي او پکې د اجاره ورکولو او د ځمکو د شخړو د حلولو له لارې د دولتي عوایدو د زیاتوالي په ګډون د غیر قانوني نیول شوې دولتي ځمکې بیرته ترلاسه کول شامل دي. د نومبر په ۱۶، معلوماتو ته د لاسرسي قانون چې د ملي شورا لخوا تصویب شوی و د ولسمشر لخوا تایید شو. قانون د حکومتي معلوماتو لپاره هغو غوښتنو ته اجازه ورکوي چې موخه یې د شفافیت ښه کول دي. دا د مدني ټولنې او رسنیو د قابلیت په واسطه د دولت د پراخې اصلاحي اجنډا د یوې برخې په توګه کار وکړي ترڅو د حکومت په واسطه د پراخو هڅو د یوې برخې په حیث د حساب ورکونې د ملاتوړسره مرسته وکړي تر څو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې هڅو ته وده ورکړي.

۴۳. په اکتوبر کې ، حکومت د عمل د کاري پلان توکو په اړه د عمل د مالي کاري ځواک د نړیوالې همکارۍ د بیاکتنې ډلې ته خپل راپور وړاندې کړ ، کوم چې د پیسو مینځلو ضد او د تروریزم د مالي تمویل پر وړاندې د معیارونو سره د نړیوال موافقت نظارت کوي. د اکتوبر له ۲۰ څخه تر ۲۴ پورې د کاري ځواک د ناستو څخه وړاندې، حکومت په خپله رسمي جریده کې د پیسو مینځلو او تروریزم د تمویل سره د مبارزې په اړه نوي قوانین خپاره کړل. نوي حکومت هم د مقرراتو د تصویب لپاره ګړندي اقدامونه ترسره کړل. دغو اقدامونو افغانستان ته اجازه ورکړه چې د "تور لیست" له حیثیت څخه ځان وژغوري ، خو هیواد لا هم د نړیوالې همکارۍ د بیاکتنې د ډلې لخوا د داسې یوه هیواد په توګه تر نظارت لاندې پاتې شوی چې د پیسو مینځلو او د تروریزم د مالي تمویل پر وړاندې د معیارونو پر ضد د ستراتیژۍ په برخه کې لا هم نیمګړتیاووي لري.

۴۴.     ولسمشر غني د سیمه ییزې حکومتدارۍ د ښه والي په موخه د اصلاحاتو د همغږي لپاره د اکتوبر په میاشت کې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکۍ اداري سره یو لړ غونډې ترسره کړې. په پلان شوي اصلاحاتو کې د واضحه معیارونو پر بنسټ د نویو والیانو ټاکل او سیمه ییزو ارګانونو ته د واک تفویض، چې ورسره بشپړه حساب ورکونه او د خدمتونو د ښه والي لپاره د عامه - خصوصي مشارکت د میکانیزم رامنځ ته کول ، او ولایتونو ته د ۴۰ سلنې بودیجې اختصاص شامل دی، مله دي. ریاست په ولایتونو کې د راپور ورکولو د کمیټو په رامنځ ته کولو پیل کړی چې دا به ولسمشر دفتر ته د سیمه ییزې حکومتدارۍ په اړه د پرمختګونو په هکله منظم او تازه معلومات چمتو کوي.

### پنځم. بشري مرسته

۴۵.     د پاکستان په شمالي وزیرستان ایجنسۍ کې د ۲۰۱۴ کال د جون د میاشتې راهیسې پوځي عملیاتو ګڼ شمیر خلک خوځښت ته اړ ایستي. د نومبر تر ۱۲ پورې ، د ملګرو ملتونو د راپورونو په حواله ټولټال ۳۲۰۱۳ کورنۍ د پولې څخه خوست او پکتیکا ولایتونو ته کډه شوي دي. زیاترو کورنیو په یادو دوو ولایتونو کې په ۱۳ ولسوالیو کې د کوربه کورنیو سره ژوند کاوه، چې نږدې ۴۳۳۶ کورنۍ د خوست ولایت په ګولان پنډغایي کې ژوند کوي. د نړیوالو همکارانو په مرسته، ځایي چارواکو په خوست او پکتیکا کې د ژمي د سرپناوو په اړه په خاص تمرکز سره، تر ټولو بیړنیو بشردوستانه اړتیاوو ته ځواب ووایه.

۴۶.     د اکتوبر تر ۳۱ پورې ، د داخلي بې ځایه شویو کسانو کاري ځواک ، چې ګډه مشري یې د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت او ملګري ملتونه کوي ، په ۲۰۱۴ کال کې د جګړو له امله په افغانستان کې ټولټال ۱۱۸۰۲۲ بې ځایه شوي کسان ثبت کړي دي. د جون له ۲۰ راهیسې ، په شمالي هلمند کې پوځي نښتو په اکتوبر کې د ۱۰۰ کورنیو په شمول، د ۱۰۰۰ څخه زیاتې کورنۍ بې ځایه کړي دي. په غزنی ولایت کې، د اجیرستان د ولسوالۍ څخه د ۲۵۵ کورنیو د بیځایه کیدو راپور ورکړل شوی دی. په کندوز ولایت کې، چیرې چې لاسرسی ورته ستونزمن دی، ملګری ملتونه وتوانیدل چې د ټولټال ۶۶۸ کورنیو بې ځایه کیدل تایید کړي.

۴۷.     د ژمي تر رارسیدو دمخه، ملګرو ملتونو او نا دولتی سازمانونو د طبیعي پیښو د مدیریت کمیسیون او د افغانستان د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره، د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې ملي کمیسیون او د افغانستان د طبیعي پیښو پر وړاندې د ملي ادارې له لارې له حکومت سره کار کولو ته دوام ورکړ ترڅو د امدادي توکو د چمتووالي او ځاي په ځای کولو څخه ډاډ حاصل کړي. د اټکل له مخې نږدې دوه میلیونه افغانان د ۲۰۰۰ مترو ارتفاعاتو په لوړوالي کې ژوند کوي چې له دې امله د ژوند د سختو شرایطو سره مخ دي او د ژمي په موسم کې ورته لاسرسی ستونزمن وي. په شمال کې د پسرلي د موسم د سیلابونو او د شخړې له امله د داخلي بې ځایه شویو کورنیو پشمول، د جګړو او طبیعي پیښو له امله په ۲۰۱۴ کال کې زیانمن شویو خلکو ته لومړیتوب ورکړل شوی و. د پاکستان د شمالي وزیرستان له ایجنسۍ څخه د کډوالو کورنیو هجوم هم د ژمي په اوږدو کې د هغو کورنیو شمیر چې امدادي توکو ته اړتیا لری، زیات کړ. د ژمي لپاره د چمتووالي اوسنۍ ارزونې ښیې چې د اټکل شوي اړتیاوو یوازې ۶۰ سلنه د ابتدایي پلانونو په واسطه ترلاسه کیدای شي چې په ټولټال ۵۴ لرې پرتو ولسوالیو کې د ۷۵۰۰۰۰ زیان منونکو خلکو لپاره خوراکي مرستې له وړاندې ځای پر ځای کړي. سربیره پردې، په خوست او پکتیکا ولایتونو کې به د کډوالو لپاره بیړني مرستې ۲۵ سلنه راکمې شي. ورته نیمګړتیاووې د غیر خوراکي توکو، د بیلګې په توګه د تیلو، کمپلو او سرپناه د توکو د برابرولو په برخه کې هم راپور شوي. دا به د لیرې پرتو ولسوالیو ، په کابل کې د غیر رسمي میشت ځایونو ، او په خوست او پکتیکا ولایتونو کې د کوربه کورنیو او کدوالو لپاره د مرستې او امداد په برخه کې د کمښت لامل شي. د ملاتړ د کمښت په غبرګون کې ، د بشردوستانه عمومي وجهي صندوق څخه د ژمي د فعالیتونو لپاره اضافي ۳.۵ میلیونه ډالره ځانګړي شوي ، په دې کې د خوست او پکتیکا ولایتونو کې د زیان منونکو ټولنو لپاره د خوړو او سرپناه توکو چمتو کول شامل دي.

۴۸.     د بیاکتنې د مودې په جریان کې ، په افغانستان کې د ګوزڼ ۱۴ نورې قضیې راپور شوې ، په دې سره په ۲۰۱۴ کال کې د ګوزڼ د قضیو شمیر ۲۲ هغو ته لوړ شو. دا د ۲۰۱۳ کال د ټولټال ۱۴ قضیو په پرتله زیاتوالی دی او دا د دې ناروغۍ پر

وړاندې د افغانستان زیانمنتوب منعکسوي. پداسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال یوازې اوو قضیو د ویروس له بومي اصل/ endemic strains of the virus څخه سرچینه اخیستې ، د وارد شوي بومي اصل انتشار په هیواد کې د قوي واکسین د پروګرام او ماشومانو ته د لاسرسي کوم چې له واکسینه پاته شوې، غوښتنه کوي. په اګست میاشت کې یو لوی پرمختګ ترلاسه شو کله چې د سیمه ییزو شخړو په پایله کې له شپږو میاشتو څنډ وروسته په هلمند ولایت کې د ماشومانو واکسین کولو ته لاسرسی ترلاسه شو. د ملګرو ملتونو او نورو شریکبانو لخوا د کمپاینونو د بیا پیل لپاره په بیلابیلو کچو کې د هڅو له لارې، د واکسین کولو څلور پړاوونه سمدلاسه په لاره واچول شول ، چې د ۵ کلونو څخه د کم عمر لرونکي ټولټال ۶۵۰۰۰۰ ماشومان واکسین کړل. په اکتوبر کې ، د ولسمشر دوهم مرستیال ، محمد سرور دانش ، د ۲۰۱۴ کال د واکسیناسیون د ملي ورځې څلورم پړاو پرانیست چې په کې ۸.۹ میلیونه ماشومان چې عمرونه یې د پنځو کالو او د هغه څخه ټیټ وو، د ګوزڼ پر وړاندې واکسین کیږي. د عامې روغتیا وزارت، د ګوزن د له منځه وړلو لپاره د نړیوال مشارکت په ملاتړ، د ګوزڼ د کمپاینونو د ملاتړ لپاره د پولیو لپاره ټولټال ۶۰۰۰۰ کار کونکي بسیج کړل.

۴۹. د ماین پاکۍ په سکټور کې، د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د دوو اضافي ولسوالیو په شمول چې د ماینونو له خطر څخه پاکې اعلان شوې په ۷۱ ټولنو کې د جګړې ۱۰ ډګرونه او د ماین ۱۴۵ ډګرونه د ماینونو له خطر څخه پاک شوي. د موجوده سرچینو په نظر کې نیولو سره تر دې دمه پرمختګ د پام وړ و، افغانستان به د اوټاوا د تړون د پلان د ترلاسته کولو پر لور چې د ۲۰۱۴ کال لپاره ټاکل شوي، و نه توانیږي خپل اهداف پوره کړي ، چې تر ۲۰۲۳ پورې د ماینونو پیژندل شوي خطرات له مینځه یوسي، اټکل کیږي چې د ماین ۴۰۰۶ میدانونه او ۲۳۱ د جګړې ډګرونه لا هم په ماینونو ککړ دي. ملګرو ملتونو د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک (آیساف) سره کار کولو ته دوام ورکړ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هغه اډې او د ډزو تمرین ځایونه چې باید وتړل شي د ناچاودیدونکو توکو له خطر څخه پاک شي. په اکتوبر کې، د متحده ایالتونو کانګریس د سطحې د پاکولو په موخه ټولټال ۲۵۰ میلیون امریکایي ډالره ، چیرې چې د متحده ایالتونو د لوړې کچې چاودیدونکو توکو د ټولټال ۸۳ تمرین ځایونو لپاره اړتیا وي، تصویب کړل.

۵۰. د نومبر تر ۱۵ پورې، د افغانستان لپاره بشردوستانه تمویل ۴۱۳ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیدلی ، چې له هغې څخه ۲۴۶ میلیون امریکایي ډالره (۶۰ سلنه) د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ګډ بشري عمل د پلان سره سمون لري. د پاتې بیلانس څخه ، ټولټال ۶۸ میلیون امریکایي ډالره د نړیوال او د سرې میاشتې د ټولنې لپاره راپور شوې، نږدې ۲۱ میلیون امریکایي ډالره د بشردوستانه عمل لپاره ځانګړي شوي. خو اختصاص شوي ندي ، او پاتې برخه نه ده صف بندي شوې. د نومبر په ۲۶، ملګرو ملتونو او اجرائیه رییس ښاغلي عبدالله د ۲۰۱۵ کال لپاره د بشر دوستانه غبرګون پلان پیل کړ. د دې پلان هدف دا دی چې د ټولټال ۸. ۳ میلیون کسانو سره مرسته وشي څوک چې تر ټولو ډیر زیانمنونکي دي، د هغو سره د خوراکي توکو، روغتیایي پاملرنې، اوبو او نورو امدادي توکو مرستې وشي او تمرکز یې په ناامنه، کم خدمت شویو او د لاسرسي له لحاظه په ستونزمنو سیمو وي. پدې پلان کې د ټولټال ۴۰۵ میلیون ډالرو مرستې غوښتنه شامله ده.

**شپږم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۵۱. تر بیاکتنې لاندې د مودې په جریان کې ، راپور ورکړل شوی چې د تیرکال په پرتله په ۲۰۱۴ کې د تریاکو کښت ډیر شوی. د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر اجرایوي رییس یوري فیدوتوف د نومبر په ۸ مه کابل ته راغی او د ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبدالله سره یې وکتل. د غونډو په جریان کې ، هغه د اوږدې مودې لپاره د افغانستان د حکومت سره د ملګرو ملتونو د دوامداره نږدې همکاري ژمنه وکړه تر څو د ناقانونه مخدره توکو د مضره اغیزو، تنظیم شویو جرمونو، او اداري فساد مخه ونیسي. هغه د مخدره توکو د قاچاق ، اداري فساد ، پیسو مینځلو ، او تروریزم سره د مبارزې په برخه کې د سیمه ییزو چاراوکو په ظرفیت کې د شوي پرمختګ، او همدارنګه د مخدره توکو د درملنې او بیارغونې د خدمتونو د چمتو کولو یادونه وکړه.

۵۲. د افغانستان د ۲۰۱۴ کال د تریاکو سروې، چې د نومبر په ۱۲ خپره شوې، تر کښت لاندې د ټولټال ۲۲۴۰۰۰ هیکتاره ځمکې په درلودلو سره، په ۲۰۱۳ کې د کوکنارو تر کښت لاندې ساحه کې ۷ سلنه ډیروالی ثبت کړی. د پایلې په توګه، د تریاکو

تولید په احتمالي توګه ممکن ۱۷ سلنه لوړ شي ، د تیر کال د ټولټال په پرتله، اټکل کیږي چې په ۲۰۱۴ کې حاصلات ۶۴۰۰ ټنو ته ورسیږي. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او ملګرو ملتونو ، په ګډه دغه سروې چمتو کړې ، چې دا زیاتوالی د ناامنۍ او د تریاکو د کښت تر منځ اړیکو ته منسوبوي. د اټکل له مخې د کوکنارو د کښت ۸۹ سلنه په سویلي او لویدیځو سیمو کې په نهو ولایتونو کې متمرکز وه ، چې د هیواد تر ټولو نا امنه ولایتونه پکې شامل دي. د هلمند په ولایت کې د تریاکو د کښت ۳ سلنه زیات شوی ، د ۴۶ سلنې ملي مجموعي تولید سره د افغانستان د کرنیزو حاصلاتو مخکښه تولید کونکی ولایت دی، چې وروسته کندهار ، فراه او ننګرهار ولایتونه دي. د تریاکو د تولید ارزښت نږدې ۸۵۰ میلیون امریکایي ډالره اټکل شوی ، یا د هیواد د اټکل شوې ناخالص کورني تولید نږدې ۴ سلنه جوړوي. د زیاتو حاصلاتو د تولید او تدارکاتو له امله په ۲۰۱۴ کال کې په کرونده کې د تریاکو ارزښت په سلو کې ۱۳ کم شو . د ۲۰۱۳ کال د ټولټال ۱۴۳ تلفاتو په پرتله، په ۲۰۱۴ کال کې د تریاکو د له منځه وړلو د کمپاین پر مهال ۱۳ کسان وژل شوي.

۵۳. د اګست د ۱۶ او د اکتوبر د ۳۱ نیټو تر منځ د قانون افغان پلي کونکو چارواکو ټولټال ۴۱۵ عملیات ترسره کړې د کومو په نتیجه کې یې چې ۷۴۳ کیلو ګرامه هیروین ،، ۲۶۸۵۷ کیلوګرامه تریاک ، ۳۵۵۸ کیلو ګرامه چرس ، ۰.۰۵۷ کیلو ګرامه امفیټامین ، ۳۲۱۷ کیلو ګرامه جامد کیماوي توکي او ۱۶۸۴۴ لیټره مایع کیمیاوي توکي ضبط کړي. سربیره پردې ، ۹۱ عرادې وسایط ، ۲۶۰ وسلې او د هیروئینو ۱۱ لابراتوارونه له مینځه وړل شوي دي. د چارواکو د عملیاتو په پایله کې ۴۷۷ شکمن کسان نیول شوي ، پداسې حال کې چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دوه تنه پولیس افسران وژل شوي دي.

۵۴. د اکتوبر په ۱۴ او ۱۵ ، ملګرو ملتونو په قطر کې"د شبکو د شبکه کولو" تر نوښت لاندې د مرکزي آسیا د سیمه ییزو معلوماتو د همغږۍ د مرکز ، د خلیجي هیوادونو د جنایي تحقیقاتو د همغږۍ د مرکز او د پلان جوړونې د ګډې څانګې په شمول د مخدره توکو پر ضد د معلوماتو یو سیمه ییز مرکز جوړ کړ. د اکتوبر له ۱۹ څخه تر ۲۱ پورې ، د درې اړخیز نوښت د هیوادونو لوړ پوړو چارواکو - افغانستان ، ایران (اسلامي جمهوریت) او پاکستان - په ایران کې سره ولیدل. د دې غونډو هدف په سیمه کې د معلوماتو د شریکولو ، همغږۍ او ګډو عملیاتو پیاوړتیا وه.

## شپږم. د ماموریت ملاتړ

۵۵. یوناما د ملګرو ملتونو له ادارو ، وجهي صندوقونو او پروګرامونو سره د ګډو او مشترکو دفتر ځایونو په برخه کې لټون ته دوام ورکوي تر څو وکولای شي د عامه او ګډو خدمتونو په ساحو کې مالي موثریت ترلاسه کړي. د موجوده مشترکو دفتر ځایونو د نوښتونو پراختیا په هغو ودانیو کې ترسره شوه کومې چې په جلال آباد ، بامیانو ، کندز او فراه کې د یوناما له خوا ساتل کیږي. د نومبر په ۲، د افغانستان دولت په رسمي ډول یوناما ته اطلاع ورکړه چې یوناما باید په کابل کې خپله یوه پخوانۍ ودانۍ چې ډیپلوماتیکې سیمې ته څېرمه ده بیرته دولت ته وسپاري، او دا اړتیا را منځ ته کوي چې د بیا ځای په ځای کولو لپاره د ماموریت د وضعیت د شرایطو سره په سمون کې خوندي او مالي مناسب اختیارونه وپېژني.

## اووم. کتنې

۵۶. د افغانستان ډیرۍ سیاسي ، اقتصادي او امنیتي ننګونو ته د رسیدو په هدف د هڅو د ګړندۍ کولو لپاره ، د لوړ پوړو دولتي چارواکو پر وخت ټاکل او تایید اړین دی. تمه کیږي چې د ملي یووالي حکومت ته به د داسې فرصت په توګه وکتل شي چې د دې هیواد د تنوع په برخه کې د افغانستان قوت نندارې ته وړاندې کړي. د سیاسي اجنډا په حواله ، د کاندیدانو تر منځ د سپټمبر د ۲۱ نیټې په موافقه کې د انتخاباتي اصلاحاتو ژمنې ، د نفوسو د ثبت او هویت پېژندنې د تایید لپاره د قوي وسیلو رامنځ ته کول ، او د پارلماني او ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو ترسره کول شامل دي تر څو د دوو کلنو په ترڅ کې د اساسي قانون لویوه جرګه را وغواړي او د لومړي وزیر د پوست په را منځ ته کولو غور وکړي. د دغه بلند پروازانه زماني جدول د پلانولو او ترتیب لپاره عاجلي پاملرنې ته اړتیا لیدله کیږي تر څو قانوني او عملي اړتیاووې پوره کړي او د پرمختګ څخه ډاډ ترلاسه شي.

۵۸. د افغانستان اقتصادي وضعیت د زیاتي اندیښنې وړ دی. د یوې مسولانه او مساوي ټولنې د ودې ورکولو او د اداري فساد د مخنیوي د ژمنې په شمول، زه د اصلاحاتو د هغې اجنډا چې د ولسمشر غني لخوا د لندن په کنفرانس کې ترتیب شوې، هرکلی کوم. اجنډا د افغانستان پر وړاندې د ننګونو سره د مقابله کولو لپاره یو حیاتي هدف منعکس کوي. حتی د ساختاري اصلاحاتو په برخه کې د پرله پسې پرمختګ سره، د عوایدو د لوړولو په شمول ، وړاندوینه کیږي چې حکومت به د لید وړ راتلونکې لپاره، په ځانګړي توګه د لوړو امنیتي لګښتونو له امله د بودیجې د پام وړ کسرونو سره مخ وي. د امنیتي وضعیت او د عوایدو د کموالي اغیزې د اوږدې مودې پراختیا او د بې وزلۍ د کمولو لپاره د پروګرامونو په برخه کې پانګه اچونه محدودوي. د تمویلوونکو دوامداره ژمنتیا ته اړتیا لیدل کیږي ترڅو د دولت د اصلاحاتو وړاندیزونو ته اجازه ورکړل شي چې په کلکه ځای پر ځای شي او په دې توګه د اقتصادي ودې لوړې کچې تر لاسه کړي او ځان بسیاینه زیاته کړي. زه د افغانستان د پرمختګ په برخه کې د میرمنو او ځوانانو د اهمیت په اړه د ولسمشر لخوا د پېژندل شوی نقش په اړه او دا چې د هغوي د ځواکمنتیا په نتیجه به د هغوي ګډون د هیواد په ټولنیز او اقتصادي پرمختیا کې مثبتې اغیزې ولري، هڅول شوی یم. زه په مساوي ډول د نوې ادارې د ارادې چې موخه یې د ښځو او ماشومانو د حقونو د ملاتړ او د حقونو پر بنسټ په پراخه اجنډا کې د پرمختګ تصریح کول دي، هرکلی کوم.

۵۹. ناقانونه اقتصاد ، چې تر ډېره حده د کوکنارو د مخ پر زیاتیدونکي تولید په اړه وړاندوینه کوي ، د افغانستان ټولنیز، اقتصادي او سیاسي جوړښت ته زیان اړوي. په دې اړه یو بریالی غبرګون یوې قوي سیاسي ارادې او همدارنګه همغږو قانوني، ټولنیزو او اقتصادي او پرمختیایي لیدونو ته اړتیا لري چې د سیمه ییزو او نړیوالو همکارانو په ملاتړ د افغان چارواکو لخوا رهبري کیږي. دا هڅې به د سیمه ییزو چوکاټونو او همغږۍ میکانیزمونو چې لا دمخه پلي شي او موخه یې د مخدره توکو او اړوندو ناقانونه عایداتو د جریان مختل کول دي، بیا تقویت شي. زه د افغانستان او ټولو سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو نوې ژمنې هڅوم.

۶۰. د سیمه ییزو هیوادونو رغونکی نقش به په افغانستان او پراخه ګاونډ کې د ثبات او اقتصادي پرمختیا لپاره حیاتي وي. سیمه ییزه سوداګري، د غیر دودیزو تمویلوونکو څخه مرستې او زیات نښلون او اړیکې هغه دوه اړخیزې ګټې دي چې د افغانستان د ځان بسیاینې د زیاتوالي لپاره به مهمې وي. د ولسمشر په توګه د غني د ټاکلو راهیسې، د نوموړي لپاره د تمرکز یوه لویه ساحه د سیمه ییزې ښکیلتیا وده ده، دا چاره د هغه په لومړنیو لیدنو کې جوته شوې. د پاکستان سره به د افغانستان اړیکې ، په ځانګړې توګه ، مهمې وي. زه په اسلام آباد او کابل کې د ملکي ادارو د هغو نښو نښانو چې موخه یې د فرصتونو کارول او د هغو ابزارو سپړنه چې هدف یې د ښکېلتیا له سره پیلول دي، هرکلی کوم. د بیجینګ د اعلامیې په درلودلو سره چې د سیمه ییزو شریکبانو لخوا د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د پخلاینې د پر وخت پروسې لپاره متفقه ملاتړ څرګندوي، د آسیا زړه – د استانبول د پروسې د راتلونکې لپاره د دوامداره سرعت په اړه هڅول شوی یم.

۶۱. په افغانستان کې د دوامداره پرمختګ لپاره اساسي اړتیا سوله ده. د ۲۰۰۱ کال راهیسې، ۲۰۱۴ کال له تاوتریخوالي څخه یو ډک کال و. افغان ملي امنیتي ځواکونو د یاغیانو د مخنیوي لپاره ګڼ شمیربریدونه ترسره کړي تر څو د ولسوالیو د مرکزونو د نیولو په هدف د هغوي مخه ونیسي. د دې کار د ترسره کیدو لپاره زیات تلفات اوښتي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د دوامداره پرمختګ او اوږدمهاله شتون څخه د ډاډ حاصولو په خاطر، د ملاتړ نړیوالې ژمنې ، چې پدې وروستیو کې یې په ویلز کې د ناټو په سرمشریزه کې ژمنه شوې ، باید عملي شي. زه به له افغان چارواکو څخه هم وغواړم تر څو د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په موخه د خپلې ستراتیژۍ د پلي کولو لپاره ټولې هڅې په کار واچوي او په خلکو د دغو توکو د ناوړه اغیزو د راکمولو لپاره نړیوال ملاتړ وهڅوي.

۶۲. زه د ملکي تلفاتو د زیاتوالي په اړه ژوره اندیښنه لرم. ، د ویرې او بې باورې په درلودلو سره چې په ورځني ژوند او راتلونکې محاسبو باندې ژوره اغیزه کوي، ملکي وګړي لا هم د شخړې دروند بار په اوږو وړي. زه د واکسیناسیون د کمپاین لپاره د بشري لاسرسي د پراخولو په برخه کې د وروستي پرمختګ هرکلی کوم. دا کړنه د دې ناروغۍ په نهایي پړاونو کې د ګوزڼ د ناروغۍ د منځه وړلو لپاره مهمه ده. د ماموریت هڅه چې موخه یې د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې، د دوی د مکلفیتونو سره ، د ټولو، په ځانګړې توګه، د دولت ضد عناصرو له خوا د موافقت ښه کول او همدارنګه په ملکي خلکو د تاوتریخوالي د ویجاړونکې اغیزې راکمول دي، د هغه یو له مهمو او اساسي دندو څخه دی. لکه څنګه د افغانانو تر منځ د پخلاینې لپاره په کابل کې د نوې ادارې

له خوا د نويو هڅونو په برخه کې په رسمعيت پېژندل شوې، د اوږدې مودې حل لارې په اصل کې سياسي دي. زه د افغانانو په مالکيت او مشرۍ د پخلاینې د ساختاري پروسې د رسيدني او لومړيتوب ورکولو په اړه د ولسمشر غني ټينګار ستايم. د دې کړنې د ملاتړ لپاره ملګري ملتونه چمتو دي.

۶۳.	د دې فرصت په کارولو او له لارې غواړم د ولسمشر کرزي څخه د هغه د مشرتابه لپاره ستاينه وکړم. هغه د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر په مياشت کې د يوه ويجاړ ملت کنترول په غاړه واخيست او د نوي اساسي قانون د موافقې او پلي کيدو، د اداري او حقوقي چوکاټونو د انسجام او د ملي امنيتي ځواکونو د بازسازي څارنه يې وکړه. په ريښتيا سره د واک ديموکراتيک ليږد د هيواد لپاره يوه لاسته راوړنه ده او په دې سره به هغه په تاريخ کې د ځان لپاره ځای خوندي کوي.

۶۴.	زه غواړم د ځانګړي استازي په توګه د يان کوبيش څخه د هغه د خدمت له امله مننه وکړم او خپل نوي ځانګړي استازي، نيکولاس هيسم ته چا چې په نومبر مياشت کې دا دنده ترلاسه کړه، ښه راغلاست ووايم. د ننګوني ور انتخاباتي پروسې له لارې به په افغانستان کې د هغه پخوانی خدمت د دې سازمان د ملاتړ د دوام په ډاډمنولو کې مرسته کوي. د هغه سره به چا چې په نوامبر مياشت کې په خپله دنده پيل وکړ، په خپل وار، د مرستيالانو، مارک باوډن او تاداميچي ياماموا‌تو لخوا مرسته وشي. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو څخه، اکثرا په ستونزمنو او د ننګونو څخه په ډکو شرايطو کې د هغوي د تعهد په خاطر ، مننه کوم، چې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زمونږ ژمنې پوره کوي.